


**بسم الله الرحمن الرحيم**

**د شام انقلاب او د اوسني پړاو حساسيت**

**(ژباړه)**

د سوريې د انقلاب هر پړاو چې تېرېږي، اړينه ده ورته ژوره کتنه وکړو او حالت په سم ډول وڅېړو. ځينې پېښې چې رامنځته کېږي، بايد په روښانه ډول ورته کتنه وشي او پر مهمو ټکو يې تمرکز وکړو، ترڅو ګټوره حل لاره ورته وړاندې شي. شايد الله سبحانه وتعالی هغو مخلصينو ته چې د شام په انقلاب کې بنسټيز رول لري، توفيق ورکړي چې سمې لارې ته مخه کړي او د انقلاب د ريښتېنو موخو پر مسير حرکت وکړي.

د ازادې شوې سيمې په لوديځ شمال کې د سوريې د نظام د ګټو له ګوابښ سره تر مخ کېدو وروسته په دغې سيمه کې کورنۍ جګړه روانه ده او ناڅاپه د نورالدين زنکي او احرارلشام ډلې د «هيئت تحريرشام » خوځښت پر وړاندې سقوط شوې او دغه جګړه په دې دليل وشوه چې د ژغورنې حکومت، د دواړو مخالفو ډلو په مرسته غوښتل د اتارب، ريحان او معره ښارونه هم له جګړې پرته ونيسي او عفرين لور ته يې شاتګ ته اړ کړي وکړي، خو اوس د «هيئت تحريرشام» پر ټوله سيمه واکمني لري. سره له دې چې نورې ترکي هويته او اخوان ته لېواله ډلې لکه فيلق شام، سلفي منشا ډلې چې ځانونه پر القاعده پورې تړي او د حراس الدين ډلې هم شته.

پر موضوع د ښه پوهېدو لپاره غوره ده چې دوو تېرو پړاونو ته ور وګرځو، چې د تحرير شام حرکت ريښه جبهة النصره ډله وه، له داعش بېله شوه او ځان يې پر القاعده پورې وتاړه. وروسته يې هغه جامې چې په درلودو سره يې پر نورو ډلو وياړ کاوه، له ځانه وابستلې او د نړيوالې ټولنې د خوښۍ لپاره يې القاعده پرېښوده، ترڅو دغه ډله هم د کفارو له لوري د

ترهگرو ډلو په لېست کې شامله نه شي. تر دې وروسته يادې ډلې د ذليل کېدو پر لور قدم کېښود او د هيئت تحرير شام ډله يې تشکيل کړه. دا هغه ډله وه چې له ترکانو سره يې اړيکه ونيوله او هوډ يې ونيو چې ازادې شوې سيمې ته دننه شي. وروسته تر دې چې يادې ډلې له روسانو او ايرانيانو سره هوکړه وکړه، ځو خپل ځواکونه لوديځ شمال ته دننه کړي او ژمنه يې وکړه چې مجاهدين به د سوريې د نظام پر وړاندې هېڅ ډول نظامي اقدام ونه کړي. دا هم د «استانې» د هوکړه ليک داسې عملي کېدو لپاره، چې غوښتل يې د يادې سيمې شخړې کمې شي.

تر هغې وروسته د «هيئت تحرير الشام» او زنګي ډلو تر منځ د «سوتچي» تر هوکړې وروسته جګړه وشوه. دا هغه هوکړه وه چې د پوتين او اردوغان تر منځ لاسليک شوې وه او په چوپتيا سره د انقلاب پای ته رسېدو او له جګړې پرته د سوريې نظام ته د سيمو د سپارلو د اړتيا پر بنسټ يې د امريکا اراده تر شاوه. د سوريې د انقلاب پای ته رسېدل د درېيو وژونکو اقدامونو له لارې چې هر يو په يوازې ډول انقلاب له منځه وړي، په ځانګړي ډول چې بيا درې واړه سره يوځای شي.

د «سوتچي» د هوکړې مهم بندونه د سوريې د نظام او انقلاب تر منځ د بې وسلو سيمو بيرته نيول، له مجاهدينو څخه د ثقيله وسلو تر لاسه کول او د سوريې نظام لپاره د حلب، دمشق او لاذقيه لارو پرانيستل وو؛ هغه لارې چې د سوريې نظام ته د يرغل لپاره سيمې اسانوي او په دغه وخت کې بله جګړه رامنځته کېږي. د تحريرشام حرکت پر ټوله سيمه واکمني لري او ترکيه پر دغې واکمنۍ بشپړه خوښه ده.

پوښتنه دا ده چې ايا «تحرير شام» ډلې له ترکيې سره ژمنه کړې، په هغه صورت کې چې واک ته ورسېږي، د «سوتچي» ناوړه هوکړه عملي کوي، په ځانګړي ډول بيا هغه مهال چې نورې ډلې هم کمزورې رول لري؟! که دغې ډلې داسې ژمنه کړې وي، وړاندې تر دې چې انقلاب پای ته ورسېږي، لومړی خپل ځان له منځه وړي. ځکه دغه ډله په دا ډول هوډ سره له خلکو سره مخ کېږي، هغو خلکو سره چې په ټول وس سره د دغې ډلې پر وړاندې ولاړ دي او دغه خلک اجازه نه ورکوي چې خپل ځانونه، انقلاب او قربانۍ په اسانۍ د سوريې نظام ته وسپاري. نو پر دې ټولو سربېره، تحرير شام ډله به پر خپله ژمنه ولاړه وي يا دا چې ترکيه او امريکا به دغه ډله ورو ورو واک ته ورسوي؟

سره له دې چې امريکا او ترکيه ياده ډله په سم ډول پېژني او پر دې پوهېږ چې که دغه ډله واک ته ورسېږي، له خلکو سره ناوړه چلند کوي او د دغې ډلې د ماليو په واسطه د خلکو ځورول ګواښوونکې نښه ده، چې د خلکو د ناوړه ژوند ښکارندويې کوي او واک ته د دغې ډلې په رسېدو سره به خلک وځورېږي. له همدې امله کله چې تحرير شام ډله لېږې شي، ترکيه به خپل نور مزدوران د عفرين په سيمه کې ځای پر ځای کړي او پر مټ به يې د تحرير شام واکمني په سيمه کې له منځه يوسي. نو په دغه ډول به حالت د ملګرو ملتونو لاسته ورشي او ورپسې به د ترکي ځواکونو په وتلو سره د سوريې نظام پر خلکو واکمني پيدا کړي او د سوريې انقلاب به پای ته ورسېږي.

> زه لومړيتوب ورکوم او باور لرم چې پر سيمه د «تحرير شام» واکمني په دوامداره توګه د ترکيې په ګټه او بيا د امريکا په ګټه پای ته رسېږي. د دې لپاره چې د سوريې د انقلاب دښمنانو ته اجازه ورنه کړو ترڅو خپل ناوړه پلانونه عملي کړي او د سوريې مبارک انقلاب کندې ته وغورځوي. له همدغه سپڅلي منبره غږ کوم او د «تحرير شام» ډلې ته وايم: د ادلب داستان پای ته ورسوئ او واک خلکو ته په لاس ورکړئ، هغو خلکو ته چې تاسو له هغه پرته کوم څه نه ياست. هر هغه څوک چې

له خلکو سره دوکه وکړي، کله چې د پردیو له لوري پرې برید وشي، نو هغه وخت بیا خلک رحم نه ورباندې کوي او هغه وخت به خلک له تاسو سره مرسته ونه کړي او هغه وخت به د داسې ژوول شوو وابنو په څېر وئ چې د ځمکې پر مخ به ځای نه لرئ.

پر دې پوه شئ چې دغه دولتونه تاسو ته د یو ملګري په سترګه نه ګوري، بلکې تاسو ته د مزدور په سترګه ګوري. پر دې هم پوه شئ چې سیاست یو سیند ته ورته دی چې تاسو پکې له لامبو وهلو سره بلد نه یاست. نو کار اهل کار ته وسپارئ چې خپل ځان او د سوریې خلک ډوب نه کړئ. پر دې پوه شئ چې مصلحت او ناوړه دفعه په اسلام پورې تړاو نه لري، بلکې دغه قاعده هلاکت او مړینه ده. په یاد ولرئ! هغه موخې چې تاسو یې پر لور حرکت کړی، د سوریې د نظام له منځه وړل او د اسلامي دولت جوړول وو؛ که تاسو پر هغه څه چې امریکا او ترکیه یې درکوي، خوښ شئ، نو وپوهېږئ چې وبه مو چیچي او د هغو کسانو برخلیک تاسو ته یو عبرت دی چې له دغه حالت سره مخ شوي دي. نو فکر وکړئ او پند تر لاسه کړئ او زه ستاسو لپاره خیر غواړم.

**له الرایه جریدې اخیستل شوی**

**لیکوال: استاد عبدالحمید «عبدالحمید»**

**۱۴۴۰هـ.ق د جمادي اول ۱٦مه**

**۲۰۱۹ م د جنوري ۲۳مه**

**ژباړن: بهیر «ویاړ»**